استقلال خپلواکی

پوهاند عبدالحی حبیبی ۰۲ اپریل ۲۰۲۵

# زوړ کندهار



د کندهار سیمي خورا زوړ تاریخ لري، دلته د هلمند او ارغنداب او ترنک درې زراعتي سیمي ښنګ پر ښنګ پرتي دي، او تر تاریخ دمخه هم دغه اورشووي د انسانانو د لومړني مدنیت په لحاظ مساعدي وې، لکه چي د شپږو زرو کالو څخه یوه ډله کوچي انسانان په دغو اورشوو کښي اوسېدل او د دوي د مدنیت مختلف مظاهر د دیمراسي او منديګک له غونډيو څخه را وتلي دي.
او که نوري تاریخي پلټني وسي، ښايي په دغو سیمو کښي نور تر تاریخ دمخه آثار هم پیدا شي ځکه چي د دغي سیمي جغرافیایي وضعیت د اوبو او مځکي او اورشو په سبب داسي دي چه د لومړنیو انسانانو لپاره د اقصادي ګټو ځاي کېداي سواي. ښايي چي ببله ارغنداب، ترنک او هلمند ځني نور کوچني رودونه، په دغو سیمو کښي بهیدل، چي وچ سوي دي، او د تاریخ پوهان وايي چي د کشک نخود اوسنی وچه شبله پخوا یو لوي رود ؤ چي دغه دښتونه ئي اوبول او د لمړنیو انسانانو لپاره چي په منديګک کښي اوسېدل، ښه او د ګټي وړ اورشو ده.
داسي ښکاري چي د میلاد زر کاله پخوا کله چي آریایي خلک افغانستان ته راغلل، نو دوی د افغانستان شمالي او جنوبي سیمي ونیولي، او په هغه کښي د اراکوزی لویه وادي هم وه چي اوس دغه د ارغنداب او کندهار مځکه ده.

تر میلاد دمخه ۳۳۰ کال ؤ چي مقدوني سکندر د هرات او سیستان له خوا د اراکوزی سیمه هم ونیوله، او یو ښار ئي دلته د ارکوزی د اسکندریې په نامه جوړ کړ، چي ښایي دغه زوړ کندهار به وي، او د دې ښار په وجه تسمیه کښي دوه روایته موجود دي.

اول دا چي دا نوم به د ګندوفاریس له نامه څخه را وتلي وي چه دغه د پهلوا د خاندان پادشاه د میلاد په لومړۍ پیړۍ کښي له سیستانه تر تکسیلا پوري مسلط ؤ، او د کندهار اوسنی سیمه هم دده د سلطنت مرکزي مځکه وه.

دوهمه نظریه متربیلو انګریزي پوهاند ښکاره کړې ده چي په ۱۸۷۲ م کال په کندهار کښي ؤ.

دی د خپل کتاب Races of Afghanistan په ۲۲ مخ کښي وایي د پنځمي پېړۍ په پاي یاد شپږمي پېړۍ په شروع کښي هغه ګنداریوي قبایل چي هیرودوت هم د افغانستان په شرقي سیمو کښي یاد کړي دي د هپتالي قبیلو د فشار په سبب د ارغنداو سیمو ته راولېږدېدل، او خپل نوم ئې دغه ښار ته ورکړ. دغه واقعه تر ۵۲۰م وروسته واقع سویده ولي چي په دغه کال چیني زایر سنګ-یان د بودا کشکول د پېښور په لوی معبد کښي لیدلی او وروسته نو دغو کندهاریانو دغه کشکول کندهار ته یووي چي تر ۱۳٤۰ شمسي پوري د زاړه سلطان ویس په مزار کښي پروت ؤ او اوس د کابل په موزیم کښي دی. د کندهار نوم په اوومه میلادي پېړۍ کښي هم وو، او کله چي اسلامي عربي فاتحان د هجرت د لومړۍ پېړۍ په اوله برخه کښي د سیستان او بست له خوا دلته راورسېدل. نو د البلاذری عربي مورخ په قول دوی کندهار ونیوئ. او د دې ځاي د خلکو د خولی اوږده تېشونه وه چي دغه راز خولی د استقلال تر جنګه پوري لا هم په کندهار کښي رواج وې او تېش ئې بللې.

دا د تعجب ځاي دي چه د اسلامي دورې په دوهمه او دریمه او څلرمه پېړۍ کښي بیا د عربو او عجمو مؤرخان د کندهار نوم په دغه ځاي کښي نه یادوي او پر ځاي ئې رخج، کوهک، پنجوائی او تګین آباد بولي.

د غزنویانو به عصر کښي دلته فقط د تګین آباد ښار یادیږي او وروسته نو تر ٦۰۰ م وروسته ګورو چي بیا دلته د کندهار نوم پیدا کیږي، او د تګین آباد نوم بیخي ورکیږي.

رخد یا رخج خو د عربو په اصطلاح د دغي ګردي سیمي نوم ؤ، چي مرکز ئې پنجوائی تر اوسه هم سته او د کوهک نوم هم تر اوسه ژوندی دئ.

زه داسي ګمان کوم چي د آلپ تګین یا سبګتګین په وختو کښي به د کندهار نوم رسماً په تګین آباد بدل سوئ وي او دا نوم تر هغه وخته ژوندی و څو د سبکتګین د اولادو شاهي چي غزني کښي وه، مګر د دې حدس له پاره تر اوسه کوم تاریخي سند نه لرو.

خو په اومه هجري سدۍ کښي منهاج سراج جوزجاني د طبقات ناصري مؤلف کورټ د کندهار نوم نه اخلي، او دلته فقط تګينا آباد پيژني او دا هغه وخت دئ چه د ٦٨٠ په حدودو کښي د جنګيزيانو حملې پر دې مځکه جاري وې. مګر لږ وروسته د ٦٨٠ هـ په حدودو کښي سيفي هروي د تاريخ هرات ليکوال بيا دلته د تګين آباد نوم بېل اخلي، او د کندهار حصار بېل کښي، نو داسي ښکاري چي تګين آباد تر اوسني کندهار لږ څه غربي خوا ته د اوسني ګرماو او نهر سراج په سيمو کښي واقع ؤ، او پر دغه مطلب باندي ما خپل ټول تاريخي دلايل پخوا د آريانا په مجله کښي ليکلي دي.

په هر صورت د تګين آباد نوم تر ٧٠٠ هـ وروسته کورټ ورک سوئ دئ، او کله چي امير تېمور دغه مځکي نيسي نو په ٧٨٥هـ کال امير حاجي سيف الدين د کندهار فتح ته ځي او د دې ځاي حکومت امير سيفل کندهاري ته سپارل کيږي چي دغه مطلب هم د مجمل فصيحي ليکوال ضبط کړئ دئ. او بيا د شرف الدين يزدي له ظفر نامې څخه ښکاري چي د ٨٠٠ هـ په حدودو کښي کندهار په دغه نامه د امير تېمور په فتح کړو بلادو کښي شامل دئ، او دغه امير سيفل کندهاري هم د هند په فتح کښي له هغه اميره سره ملګرئ دئ.

د هرات د تېموريانو په عصر کښي کندهار د دوی د لوی مملکت يو طبيعي جز ؤ، د ٨٢٠هـ په حدودو کښي ميرزا شاهرخ او بيا وروسته سلطان حسين باي قرا دغه ښار يوه شهزاده ته وسپاره. او په مطلع سعدين او روضة الصفا او حبيب السير او د دغسي دورې په نورو تاريخونو کښي د هرات د تېموريانو د لوي مملکت يو معتبر ښار دغه زوړ کندهار ګڼل کېدي.

د ٩٠٠هـ په حدودو کښي د هرات د تيموريانو کورنۍ صعيفه سوه د شمال له خوا شيباني خان اوزبک او د غرب له خوا صفويانو پر دوي حمله وکړه، او په دغه وخت کښي د امير ذوالنون ارغون زامن شاه بېګ او محمد مقيم چي د هرات د تېموري دربار امراء وه له فراه څخه تر کندهاره او دره بولانه مسلط سول. مګر دوی له يوې خوا د شيباني خان او د کابل له خوا څخه د بابر سره مقابل وه څو چي په آخر کښي په ٩١٣هـ بابر کندهار ونيوئ، او پسله دې دغه ښار کله د بابر او د ده د اولادو په لاس کښي ؤ او کله به د صفويانو لښکر راتلل او دغه ښار به ئې نيوئ. مګر حقيقي اختيار او واک ئې د کلات د غلجو يا د ارغسان او هرات ابداليو حکمرانانو په لاس کښي ؤ.

د بابر کورنۍ حکمراني له ٩١٠هـ تر ١٠٥٩ پوري پر کندهار باندي په دغه ډول جاري وه، کله چي به د هند تېموريان غالب او کله به صفويان يوازي په دې کلا کښي ناست وه او فقط لاري به ئې ساتلې او د اطرافو پښتانه به د دوي له اثره آزاد ؤ مګر په ١٠٥٩هـ کال چي دا ښار

صفویانو ونوئ، نو د حاجي میرویس خان هوتک تر نهضته ۱۱۱۹هـ پوري د دې ښار ټینګه کلا د صفویانو لښکرو پناه ګاه وه او په همدغه کال میرویس خان د پردو له تسلطه آزاده کړه.

په دغه وخت کښې د زاړه کندهار جغرافي وضع داسي وه، چي د غره په شرقي لمن کښې پروت ؤ او دغه غر ئې کوه لکه یا قیتول باله پر غره لوړه د ارګ کلا وه چه د چهل زینې څخه تر لخشکه پوري د ښار طول ؤ، ابوالفضل وایي چه کندهار دوې کلاوي درلودې، چه پسور ئې ٦۰ ګزه ؤ او دورا دور ئې خندق هم درلود، د نارنج مرکزي قصر د شاه او حاکم مسکن ؤ، میر معصوم وایي چي د قیتول پر غره باندي پخوا یوه آتشکده آباده وه، او د ښار کلا دغه دروازې درلودې:

د چهل زینې پر لوري شمالي خوا ته د ګندیګان او شیخ ولي دروازې وې.

د جنوب خوا ته د ماشور دروازه او شرقي خوا ته دروازهء نو او دروازهء خضي وه او د قیتول پر خوا د علی قاپي دروازه وه.

نواب صمصام الدوله په ماثر الامراء کښې د ښار پر شرقي خوا یوه بله دروازه د ویس قرن په نامه هم یادوي، چي دغه مزار تر اوسه هم د سلوان ویس په نامه د زاړه ښار شرقي لمنو کښې موجود دئ.

د پادشاه نامي مؤلف لیکي چه د شاه جهان په وختو کښې د کندهار کلا ترمیم سوه، او اته لکه روپۍ په دې ترمیم خرڅې سوې.

په اکبر نامه کښې د ابو الفصل له بیانه داسي ښکاري چي تر دې ښار دمخه یو بل زوړ ښار د ماشور دروازې خوا ته ؤ او د نارنج قصر ئې برج خچه (آقچه) هم باله، او دا مانۍ د ارګ په کلا کښې واقع وه او په ښار کښې دننه د غره په لمن کښې یوه بله کلا هم وه چه په هغه کښې به ئې اسلحې ایښوولې او جبه خانه وه.

تر چهل زینې لاندي چي لیمه آرامي او یوناني نوشته پر یوه پربښه باندي پیدا سوې ده دا نوشته د اشوکا په امر لیکل سوې ده چي د ۲۳۰ق-م حدود دئ او داسي ښکاري چه زوړ کندهار دغه دوه زره کاله پر دغه ځاي آباد ؤ او دا ښار په ۱۱۵۰هـ کښې هغه وخت متروک او وران سو چي تره یوه کال محاصرې او مقابلې وروسته نادر شاه افشار ونیوئ او وران ئې کئ.

د زاړه کندهار له سقوط او ورانۍ سره د هوتکو سلطنت هم سقوط وکئ، خو چه لوي احمد شاه بابا په ۱۱٦۰هـ کال د افغان لوی سلطنت جوړ کئ او د کندهار دغه نوی ښار ئې لږ څه د زاړه ښار پر شرقي شمالي لوري ودان کئ.[۱]

(۱) د خپلواکۍ د پنځوسمي کلیزي په مناسبت د طلوع افغان هدیه ص ۵۱-۵۳.